(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


1. آبیاری اود فصل د اوبوری تنظیم 5
1.1 ســریزه 5
2.1 د فصل د اوبو اړتیا 5
3.1 د خاوری فزیکی خواص 6
4.1 د خاوری اوبه 9
5.1 د اوبو ورکولو مهالویش 10
6.1 د اوبو ورکولو طریقې 14
7.1 د آبیاری تنظیم اداره 16
2. د بازار لپاره د تولیداتو پلانول 19
1.2 سریزه 19
2.2 منسجمه زمینداری د پلانولو لپاره د یو چوکات به حیث 19
3. د نبات تغذیه د سبزیجاتو په تولید کی 28
1.3 سریزه 28
2.3 د نبات اساسی غذایی مواد 28
3.3 د غذایی موادو نقش د نبات په ودی او انکشاف کی 28
4.3 د نبات د غذایی موادو موجودیت او د خاوری pH 30
5.3 د غذایی عناصرو کمبنت 32
6.3 د غذایی موادو د کمبنت علامی – د رومی بانجانو مثال 32
7.3 د غذایی مواد د کمبود د تشخیص لپاره کلي 35
4. په سرو پوهیدل 37
1.4 سریزه : 37
2.4 د سرو دغذایی محتویاتو څرگندول 37
3.4 عضوي ســــری: 38
4.4 غیر عضوی مصنوعی سری 45
5.4 د سری د تطبیق طریقی او وختونه 49
5. د نباتاتو حفاظت او ساتنه 52
1.5 هرزه بوټي 52
2.5 حشرات 53
3.5 نور ژوندي موجودات 54
4.5 ناروغی او بی نظمی 54
5.5 د مضره ژوندیو موجوداتو د کنترول لپاره کړنلاری ستراتیژی 55
6.5 د مضره موجودات وژونکی (پستیسایډ) 58
7.5 آفا ت کش پستسایدو څخه په خوندی طریقه کار اخیستل 61
6. د حاصلا تو ټولول او د ټولولو څخه وروسته یی اداره کول 62
1.6 د حاصلاتو د ټولولو څخه وروسته ضایعات کمول 62
2.6 د حاصلاتو ټولول 62
4.6 د حاصل د ټولول تخنیکونه 64
5.6 په ځمکه کی پټیو کی د فصل د مدت اصلاح 64
6.6 مینځل 65
7.6 منظمول او درجه بندی 65
8.6 په پاکټونو کی اچول 65
7. د سبزیجاتو لپاره د بزغلیو تولید 69
1.7 ســریزه 69
2.7 د ځای انتخاب 69
3.7 د ساحوی قوریو تولیدات 70
4.7 د بزغلیو تولید په گلخانو کی 72
5.7 د بوزغلیو کبنیت 74

(c) ketabton.com: The Digital Library

**2.6 جدول: د عامو سبزیجاتو ذخیروی مدت او د خرابیدو مقایسه**

| سبزیجات | د ذخیری احتمالی ژوند په اونیو | د خوسا کیدو درجه |
|---|---|---|
| براکولی، گلپی، پالک، کاهو، خواره جوار، پاخه رومیان، شنه پیاز | < 2 | ډیر لوړ |
| کرم، سیلري، د کاهو سر، بادرنگ، Brussels sprouts، تور بانجان، لیروگان، مرچکی، کدو، ختکی او هندوانی، لوبیا او رومیان | 2 to 4 | لوړ |
| لبلبو، ملی، گازری، کچالو | 4-8 | متوسط |
| وچ پیاز | 8-16 | ښکته |
| هوږه، کدو، زړي، وچی میوی | >16 | ډیر ښکته |

*Source: University of California Post Harvest Technology Research and Information Center*

یو څو محدود فصلونه د اوږدی مودی ذخیری لپاره توافق کولای شي. چه کیدای شی د حاصلاتو د ټولولو د دوران څخه تر زیاتی مودی په ښه حالت وساتل شي. کیدی شی چه په لوړه بیه خرڅ شي او بازار ته د عرضی د موسم د اوږدلو د لاری کیدای شی ډیر زیات تولیدات بازار ته وړاندی شي.

اکثراً د ذخیری ډیر کامیاب تسهیلات او آسانتیاوی په ښارونو کی وي ځکه چه:

- کله چه قیمتونه ښه وي نو تولیدات کیدی شی چه په چټکی سره بازار ته عرضه شي
- د یخچال اسانتیاوی په ښارونو کی کولای شی چه د سبزیجاتو څخه علاوه نور ډیر ډولونه د تولیداتو ذخیره کړي (لکه مڼی په ژمی کی، ستروس په اوړی کی، کوچ او نور لبنیات)

**د تازه موادو د ذخیره کولو لپاره مشوری**

ژر تر ژره یی ذخیره کړئ. څومره چه ژر تولیدات ذخیره شی په هماغه اندازه اوبه لږی تبخیریږي

د ذخیری کوټی او لوښی باید پاک وي تر څو د مخکینیو فصلونو څخه د ناروغیو انتقال کم شي

پخی میوی د نا پخو میوو څخه جلا کړئ ترڅو د ایتایلین گاز د خامو میوو پخیدل چټک نه کړي

په عین ذخیره گاه کی د مختلفو تولیداتو یوځای کولو څخه ډډه وکړئ ترڅو گازونه او بویونه نور سبزیجات متاثره نکړي

ریښی او غوټی په وچه فضا کی ذخیره کړئ نظر نورو تولیداتو ته

استوایی تولیدات په ۱۰ درجو د سانتی گراد او یا پورته کی ذخیره کړئ او معتدل فصلونه ددی څخه په ښکته درجه کی

یخچالی ذخیری قیمته وی او یوائی هغه وخت کی توجیه کیدی شی چه گټور تمام شي . دا دی ته ضرورت لري چه د دخیری لپاره په کافی اندازه غوښتنه موجوده وي، ښه اداره یی ترسره شي، د برق یوه باوری او ارزانه منبع وجود ولري.

مونږ کولای شو چه بدون لدینه چه په قمیتی ماشین آلاتو باندی ډیره سرمایه گزاری وشي، د تولیداتو مفیده ژوند اوږد کړو. اول مهم کار دادی چه د لوړ کیفیت والا تولیدات انتخاب شي (یعنی زخمی نه وي، ناروغی ونلری)، لوړ رطوبت وساتل شي او تولیدات په سیوری کی وساتل شي. په سمو او برابرو شرایطو کی چه ښه اداره یی تر سره شي، هغه ذخیری چه ښه تهویه ولری کیدی شی چه ډیری ارزانه وی، خصوصاً د پیازو او کچالو لپاره. هغوی د شپی له خوا سړی هوا ته ضرورت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ذخيرې اړتياوې د هر سبزی لپاره په راتلونکو اړونده فصلونو کی ورکړل شوی دی. هر سبزی د حرارت د درجی، رطوبت او د ايتايلين د تحمل له نظره بی ساری دي. د کاليفورنيا پوهنتون د هغو سبزيجاتو او ميوه جاتو لپاره يو جدول تشکيل کړی، چه په ذخيره او انتقال کی سره يوځای کيدای شي. پدی جدول کی فرض شوی چه ذخيره د لنډی مودی (اووه ورځی يا کم) لپاره ده او دا چه په هوا کی د ايتايلين اندازه ډيره کمه ده. 8.3 جدول دری گروپه وړاندی کوي او هغه سبزيجات چه ايتايلين ته ډير حساس دی د خپلو نومونو سره يو ستوری لري. دا توليدات بايد د هغو توليداتو سره انتقال او ذخيره نه شی چه ډير ايتايلين گاز توليدوي لکه منی، خټکی ياmuskmelon، روميان او کيلې.

**3.6 جدول: د ذخيری او انتقال وړ گروپونو**

| لمړی گروپ: **0-2°C, 90-98% rh** | دوهم گروپ **7-10°C, : 85 -95% rh** | دريم گروپ**13-18°C, : 85-95% rh** |
|---|---|---|
| لبلبو<br>براکولی*<br>Brussels Sprout*<br>کرم*<br>گندنه*<br>کاهو*<br>خواږه جوار<br>اوږه<br>شلغم<br>ملی<br>Rutabaga<br>Snow pea*<br>پالک *<br>گلپی*<br>گازری*<br>سيلری* | Snap beans<br>Green beans<br>Wax beans<br>بادرنگ*<br>توربانجان*<br>ليرو*<br>Bell pepper<br>د دوبی کدو* | کچالو<br>پياز<br>د ژمی کدو*<br>روميان: پاخه، شنه، قسماً پاخه |

*indicates sensitive to ethylene; these vegetables should not be stored and transported with ethylene producing vegetables and fruits

*Source: University of California Post Harvest Technology Research and Information Center*

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 7. د سبزيجاتو لپاره د بزغليو توليد

## 1.7 ســــريزه

په شرقی زون کی ډير سبزيجات د بزغليو څخه توليديږي چه پکی د Cucurbits خاندان لکه کدو، هندوانه او Cantalope شامل دي، د Brassicas خاندان (براکولی، کرم، ګلپی)، کاهو، پياز، مرچکی او روميان شامل دي. په عنعنوي توګه بزګران خپل تخمونه لري او بزغلی تری لاس ته را وړي. که د سړې هوا د فصلونو د ساحوی قوريو لپاره هوا خورا ډيره سره وي، نو بزګران خوښوي چه په ګلخانو کی توليد شوی بزغلی واخلي. د دوبی د موسم فصلونو لپاره تقاضا لږه ده . لکه څنګه چه تجارتي بزګران خپل کاروبار ته پراختيا ورکوي نو په ګلخانو کی د بزغلی د توليد لپا ره تقاضا ډيره وي.

**د بزغليو د استعمال ګټی**

- فصل په ښه توګه پيل کوي څکه چه قوی او صحتمند بزغلی کرل شوی وي
- فصل ډير همشکله وی او په پټی کی کار کول موثره کوي
- د تخم څخه ډير تر ډيره فصل تر لاسه کيدای شي
- فصلونه ژر پخيږي او مارکيت ته رسيږي چه په لوړه بيه خرڅ شي
- د مضره حشراتو او يا ناروغيو ستونزي کميدلای شي
- د خاوری کلکيدلو څخه مخه نيول کيدی شي

د يوکلنو سبزيجاتو بزغلی که د ساحوی قوريو څخه وی او يا د ګلخانو څخه وی بايد شين، ګڼ، قوی، صحتمند او د ريښو ښه سيستم ولري. ډير کوچنی او ډير پوخ بايد نه وي . بزغلی بايد مخکی لدينه چه پټيو ته انتقال شي بايد مقاومت يی لوړ کړل شي تر څو وکولای شي د پټيو د شرايطو سره په آسانی توافق وکړي . ډير سخت بايد نه شي چه لرګی ډوله ژير رنګ ونيسی څکه چه په پټی کی د کښت څخه وروسته فعاله وده نه کوي.

د بزغليو په کرلو کی هله برياليتوب تر لاسه کولای شو چه د انتقال په پروسه کی بزغلی ته لږ تر لږه مزاحمت وشي.

د قوريو د تاسيس او اداری تخنيکونه ډير مهم دي تر څو صحتمند، قوی بزغلی تر لاسه شي . پدی فصل کی به پراختيايی کارکوونکی د بزغليو د توليد اصلاح شوي طريقی زده کړي – هم په ساحوی قوريو او هم په ګلخانو کی.

## 2.7 د ځای انتخاب

د سبزيجاتو کرونکی بايد په ډير پام سره د قوريو لپاره ځای انتخاب کړي. لاندی شرايط بايد پام کی ونيول شي:

- ځای بايد هوار وي
- بايد د توږنی يا احتکال د عمل او يا د وچوونکو بادونو څخه وژغورل شي
- ورته نژدی بايد يوه دايمی د اوبو زيرمه وي
- ځمکه بايد د ناروغيو او مضره حشراتو څخه آزاده وي
- قوريه بايد شرق خواته متوجه نه وي تر څو د مرطوبو تيغو د وچيدو څخه مخنيوی وشي او ګلخانی بايد شمالاً او جنوباً پرتی وي تر څو مساويانه رڼا وروړسيږي.

لکه څنګه چه ګرين هاوس يا ګلخانه معمولاً تجارتی کار دي نو بهتره به وی چه مزدورانو، برق او سرک ته لاس رسی موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 3.7 د ساحوی قوریو تولیدات

**عنعنوی یا روایتی قوریه**



**1.7 شکل: عامه عنعنوي ساحوی قوریه**
*Source: ALP/E, Jalalabad*

په شرقی زون کی د بزغلی د تولید لپاره ډیر عمومی سیستم د ساحی قوریی دي . بزگران د خپلی ځمکی یوه کوچنۍ برخه د قوریی لپاره ټاکی او کله چه بزغلی تیار شی نو د هغه ځای څخه یی اصلی ځای ته انتقالوي. د سبزیجاتو کرونکي معمولاً په کوچنیو لوښو کی تخمونه کري تر څو تیفی تری نه په لاس راشي، عیناً لکه څنګه چه د وریجو قوریه تیاروي (شکل 1.7). تیفی اکثراً یا د ډیرو زیاتو اوبو او یا د ډیرو لږو اوبو پواسطه ضرر ورسیږي عیناً لکه د سبزیجاتو فصل بزگران ددی لپاره چه قوریه کی د بزغلیو ډیر نفوس تولید کړي، ډیر تخم استعمالوي تر څو ضایعات هم د بزغلیو د کښت څخه د مخه او هم وروسته جبران کړي . د کمزوره اداری عملونو له وجی، بزغلی دومره قوي نه وی څومره چه باید وي . که چیری کمزوری بزغلی یا تیفی انتقال او وکرل شي، نو شاید ونشی کولای چه د انتقال ضربه تحمل کړي او یا شاید د ناروغیو او حشراتو د حملی لاندی راشی چه د سبزیجاتو تولید ډیر کمولای شي.


**د اوچت شوی بسترونو قوریه**

د تیفو تولید په اوچت شوو بسترونو باندی د ښه کیفیت تیغی ورکوي. او چت بسترونه د خاوری شه جوړښت لري نو ریشی یی کولای شی چه په خاوره کی ښه نفوذ وکړي . اوبه اوغذایی مواد د نبات د ودې او پرمختګ لپاره موجود وي. د اوبو پوری تړلی ناروغی هم کمی وي ځکه چه ځوان بوټی د اوبو ورکولو په وخت کی د اوبو سره تماس نه پیدا کوي. د ځمکی تخلیه بهتره وي. تخمونه په اوچتو بسترونو باندی په قطارونو کی کرل کیږي او تیغی د بقا او پایښت ډیر چانس لري. په همدی دلیل د تخم اندازه کیدای شی چه د عنعنوي یا روایتي قوریو په نسبت کمه وي. او چت شوی بسترونه کار ډیر غواړي لیکن د تیغو د یو شان تولید باعث گرزي . لاندی مرحلی د ساحوی قوریی په تاسیس کی په پام کی ونیسی:

۱ مرحله: ځمکه او خاوره تیاره کړئ
۲ مرحله: حیوانی یا ترکیبی سره ورعلاوه کړئ
۳ مرحله: د تخم بستر اندازه او منظم او سطحه یی هواره کړئ
۴مرحله: ځمکی د مضره موجودتو څخه پاکه کړئ او اوبه ورکړئ
۵ مرحله: په سطحی ډول جرې جوړې کړئ او تخم پکی وکرئ او بیایی پټی کړئ
۶ مرحله: د سطحی حفاظت او ساتنه وکړئ
۷ مرحله: اوبه ورکړئ او مضره بوټی تری لرې کوئ

ځمکه کیدای شی چه د لاس او یا د تراکتور پراسطه تیاره شي . ښه تجزیه شوی سره باید ورعلاوه شی او خاوری سره مخلوطه شي. ساحه باید اندازه گیری شی او اوچت شوی بستر جوړشی

(c) ketabton.com: The Digital Library




**2.7 شکل: د تیغو د تولید لپاره د اوچتو بسترونو د جوړولو برخې او مرحلې**

مونو لپاره تشکیل شي. د 2.7جدول د توصیه شوو اندازو څخه کار واخیستل شي. 3.7 شکل د همدی جریان یو څو لمړنی مرحلی په تصویرونو کی ښیی.




**3.7 شکل: د لمړۍ او دریمی مرحلی څخه وروسته د ځمکی عکسونه**
*Source: Roots of Peace Powerpoint Presentation: Nursery Establishment for Seeds*

کله چه اوچت شوی بستر جوړ شو نو باید په ټول اوږدوالی کی هوار شي . د جراثیمو او مضره موجوداتو د ختمولو لپاره د جوش اوبو څخه استفاده کولاۍ شو. خاوره باید د ۲۵-۲۰ سانتی پوری لمده شي تر څو مرض تولیدوونکی موجودات ووژل شي. بیا دا بستر د کښت لپاره تیار دې.

3.7 شکل: د لمړۍ او دریمی مرحلی څخه وروسته د ځمکی عکسونه

د بسترونو په امتداد کوچنۍ چری وښکل کیږي او تخمونو په قطارونو کی کرل کیږي (3.4 شکل). د خاوری د لږ مقدار او یا هم د شږی پواسطه پوښل کیږي. د بستر سطحه د نباتی بقایاوو او واښو یا بوسو پواسطه پوښل کیږي تر څو د لمر د وړانګو څخه وساتل شي . کله چه تیغی راووزي، نو وچ شوي واښه لری کولاۍ شو.



**4.7 شکل: د تخم کرل په اوچت بستر باندی**

د بزغلیو د حفاظت لپاره د نورو طریقو څخه کار اخیستلا ی شی. یو محلی جوړ شوی چوکات به بسترونو باندی ایښودلی شو او یا د سپن پلاستیک پواسطه پوښله شوی چوکات استعمالولی شی، خصوصاً به سړو شپو او ورځو کی.

د اوچت بسترونو او ښی اداری د لاری بزګران کولی شي چه د لږ تخم د استعمال پواسطه ډیری پیاوړی او صحتمننده تیغی تولید کړي (1.7 شکل) نظر عنعنوی او روایتی سیستم ته . په عام ډول خلک د کرم د کافی تیفو د تولید لپاره په یو جریب کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۰ تر ۳۰۰ گرامو پوری تخم کړي. د اصلاح شوو طریقو پواسطه چه دلته ورکړل شوې، کرونکی کولای شی ددی اندازی ددریمی برخه څخه تر نیمایی پوری استعمال کړي.

1.7 جدول: د ساحی یا پټی د قوریی خصوصیات د ټاکلو سزیو لپاره

| فصل یا سبزی | د تخم اندازه | ساحه (مترمربع) | د بزغلیو تولید | د ځمکی اندازه |
|---|---|---|---|---|
| گلپی | *100* | *20* | *14 000* | *1,5* |
| کرم | *100* | *20* | *14 000* | *1,5* |
| براکولی | *100* | *20* | *14 000* | *1,5* |
| کاهو | *500* | *100* | *130 000* | *5,0* |

د بوزغلیو د انتقال او کښت څخه دوه اونی د مخه بزگران باید په تدریجی توگه ځوان بزغلی لمر او گرمی هوا ته ښکاره کړي. سیوری باید هره ورځ لږ لږ تری ایسته شي تر څو د انتقال څخه یوه اونی د مخه به مکلمل ډول سیوری تر لرې شي.

د تخم بسترونو ته باید په منظمه توگه اوبه ورکول شي او هرزه بوټی تر لری شي. مضره بوټی په چرو کی باید قطع شي چه تخم تولید نه کړي خو ریشی یی په ځمکه کی پاتی وی تر څو د ځمکی سوری د تخلیی او نفوذ لپاره خلاص وساتی، خاصتاً په هغه خاوره چه ډیره متینه وی . د DAP یو کوچنی مقدار د بوټو د قطار تر څنگ استعمالولی شی. که چیری ځوانو تیغو ته ډیر ژر ډیر زیاته سره ورکړ ئ نو بوټی ډیر اوږدیږي او دا چه کله اصل پټی ته انتقال شي قوی نباتات نه تولیدوي.

### 4.7 د بزغلیو تولید په گلخانو کی

دا طریقه کیدی شی چه ساده وی او ډیره پیچلی وی . عموماً یو تونل شکله جوړښت د فلز او یا لرگي څخه جوړیږي. بهشرقی زون کی دا جوړښت د فلزی نلونو پواسطه جوړیږي . چت یی د Polyethylene د فلم پواسطه پوښل کیږي. دیوالونه یی خلاص وی او متحرکه پردی پکی نصب شوی وي تر څو د هوا جریان لپاره خلاصی شي او د بادوباران په صورت کی بندې شي.



5.7 شکل: تونل شکله گلخانه

د جوړښت د دی والونو په مقابل کی اوږدی چوکی گانی اینبودل کیږي. باید د ځمکی څخه اوچته شی تر څو کار پری آسانه وي او تر څو د خاورو پواسطه ککړی نه شی . که فلزی وی نو د ریشو د قطع کولو او د تخلیی لپاره ډیری ښی وي او پاکول یی هم آسانه وي.



**6.7 شکل: د ودی لپاره د وسط تخته کول**

*Source: ALP/E Jalalabad*

د بزغلیو د تجارتی تولید لپاره په گلخ انو کی د ودی مصنوعی خاوری یا میډیا ته ترجیح ورکول کیږي . دا جوړه شوی خاوره د بازار څخه رانیول کیدی شی او هم کیدی شی چه په کور کی جوړ شي . د ودی د ښه میډیا خصوصیات دادي : ښه تخلیه، د ناروغیو او مضره حشراتو نشتوالی، د اوبو د ساتلو ښه ظرفیت او د تخته کیدو پهمقابل کی مقاومت

هغه لوښي چه د بزغلی د تولید لپاره په کاریږي اکثراً د Styrofoam او یا د سخت پلاستیک څخه جوړ شوی وی . د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلاستیکی لوښو پاکول او بیا استعمال آسانه وي. هر لوښی د څو حجرو یا خانو څخه جوړ شوی وي. څومره چه دا خانی غټی وي په هماغه اندازه یی شمیر په لوښی کی کم وي. حجم یی فرق کوي او د سبزیجاتو د مختلفو بزغلیو لپاره مختلف حجمونه نظر غټوالی او د ریښو سیستم ته استعمالیدی شي. د مثال په توګه هغه لوښی چه ۱۲۸ خانی ولري (هره خاه ۲۳ سی سی) د مرچکیو، رومیانو او د ساړه موسم سبزیجات لکه ګلپی او کرم لپاره توصیه کیږي. هغه لوښی چه ۲۴ خانی ولری (۱۷۱ سی سی هره خانه) د لمړنیو رومیانو لپاره توصیه کیږي. کله چه بوزغلی د موسم په پیل کی انتقالیږي او کرل کیږي نو د خانو د جسامتونو تر منځ تفاوت مهم دی باید بزغلی ځوان او سخت وي. تور رنګه لوښی ډیر حرارت ساتي. او ځوان بوټی په ډیره چټکی سره وده کوي. په ګلخانو کی د بوزغلیو د تولید لمړی مرحلی په لاندی ډول دي:

- د ودې لپاره خاوره تیار کړئ (د خاوری او د نورو موادو لکه د اری بور مخلوط)، ښه یی مخلوط کړئ او رطوبت ورکړئ
- دا مخلوطه خاوره لوښو ته علاوه کړئ او کله چه خانی په مکمل ډول ډکی شوی نو اضافه یی ایسته کړئ
- مخلوط یا میډیا ته فشار ورکړئ ترڅو په ټولو خانو کی هوار او یو شانته شي (3.6 شکل)
- په هره خانه کی یو دانه تخم وکرئ او یا هم دوه، او بیا وروسته یی رنګړي کړ ئ او په هره خانه کی یو پریږد ئ. خانی په متباقی میډیا سره پوښ کړئ
- لوښو ته اوبهورکړ ئ او په هوارو کرسیو باندی یی کښیږد ئ او د پاسه پری لمده بوجی کښیږد ئ تر څو رطوبت تر هغه وساتي چه تخم تیغه وکړي. ددی مودی په دوران کی ګلخانه باید ګرمه وساتل شي او بوجی باید لمدی وساتل شی
- کله چه تخمونو تیغی وکړې نو په احتیاط سره تری بوجی ایسته کړی.

د تخم څخه د تیغی د پیل کیدو څخه نیولی تر د بزغلی د سختیدو پوری باید د هوا جریان، حرارت، رطوبت، او د سری ضروریات یی کنترول شي. ځکه چه دا هغه کلیدی او مهم عوامل دي چه د بزغلیو په کیفیت باندی اغیزه کولی شي. په کراره او په ثابت ډول وده ډیره ښه او مطلوبه وي.



**3.7 شکل: خوانی صحتمندی تیغی**
*Source: ALP/E Jalalabad*

د اوبو ورکولو اندازه او تکرار د حجری ډول، د میډیا ډول، د هوا جریان او د هغو د حالاتو پوری اړه لري. د خانو لرونکو لوښو ته باید ښی اوبه ورکړل شي ترڅو په لاندی برخه کی ریشی وده وکړي او بیا پریښدل شی چه دا برخه وچه شي مخکی لدینه چه بیا اوبه ورکړل شي. اوبه باید س هار کی ورکړل شی او نه ماسپښین کی. د اوبو کیفیت اکثراً د پامه غورزول کیږي خو په ګلخانو کی د بزغلیو د کرلو لپاره خورا زیات ارزښت لري. د اوبو pH باید ۷-۶ پوری وي. لوړ pH د غذایی موادو کمښت رامنځ ته کوي.

په قوریه کی د سری مناسب او صحیح استعمال د ځوانو بوټو په کیفیت باندی مستقیمه اغیزه لري. ډیره سره ورکول، خصوصاً د دودي په لمړی وختونو کی اوږده نباتات تولیدولی چه شاید خپلی پاڼی د لاسه ورکړي او په ځمکه کی په ډیر بطی دول تثبیتیږي. او د سری یا کود ډیر کم استعمال باعث ددی کیږی چه د بوټو وده کمزوری شی او لند بوټی ح اصل شي. باید په یاد وساتو چه هیڅ یوه سره یا کود داسی ندی چه ټولو چاپیریالی شرایطو سره سمون ولري. نو د سری اندازه او کیفیت باید د هر فصل په اساس وټاکل شي.

دا مهمه ده چه په ګلخانه کی د حشراتو او ناروغیو ستونزی تر نظر لاندی ولرو. تولیدوونکی باید نظارت تر سره کړي او څنګه چه کوم ستونزمن بوټي وګوري، فوراً یی باید ایسته کړي. که چیری دا د خانو والا لوښي بیا استعمالیږي نو باید د خاوری یا نورو بقایاوو څخه ښه پاک شي او د مکروب وژونکی محلول پواسطه پریمنځل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. په یاد ولرط چه شاید د کلورین محلول شاید د ځوانو بزغلیو لپا ره زهری خاصیت ولري. نو نوموړی لوښی باید په اوبو کی ښه پریولل شي او هوا ته پریښودل شي چه وچ شي مخکی لدینه چه بیا تری ګټه واخیستل شي.

مخکی لدینه چه بزغلی یا بوټی پټیو ته یوړل شی باید مقاومت یی لوړ بوتلل شي تر څو وکولی شی د ساحی د شرایطو سره ځان عیار کړي. د سبزیجاتو د بوزغلیو مقاوم کول چه په ګلخانو کی کرل شوی وی باید د انتقال څخه ۳-۲ ورځی د مخه تر سره شي . اوبه ورکول او سره یی باید کمه شی . په ګلخانه کی د تودوخی درجه باید ښکته شي او رڼار یی زیاته شي.

## 5.7 د بوزغلیو کښت

دا معمولاً په چرو او یا په پولو کرل کیږي . په ځینو ځمکو کی ځوان بزغلی په غټو او هوارو مخصوصو لوښو کی انتقالیږي. د سبزیجاتو اکثره ډولونه د کښت څخه ۷-۵ اونی وروسته انتقالیږي چه د حرارت د درجی او د فصل په ډول پوری اړه لري.

که غواړئ چه د ښو بزغلیو څخه ښه او پوره ګټه واخلی نو په او چتو بسبرونو باندی یی کرئ چه عمده ګټی یی په لاندی ډول دي:

- د اوبو تخلیه ښه وی او د شدید باران څخه به امن کی وي
- فصلونه صحتمند وی او د اوبو سره په مستقیم تماس کی نه راځی
- په یوه معینه ساحه کی د بوټو شمیر لوړ وي چه حاصلات یی ډیر وي

د اوچت شوو بسترونو جوړول

د فصل د ډول په اساس د یو بستر د مرکز څخه د بل بستر تر مرکزه پوری باید ۱.۱ نه تر ۱.۵ مترو پوری فاصله وي. کله چه چری او پولی جوړی شي نو بیا د پستی او ډډی خاوری خخه استفاده کیږي چه بسترونه پری ډک شي (8.7 او 9.7 شکل).




**8.7 شکل: د ځیرو او پولو جوړول د اوچتو بسترونو په جوړولو کی**
*Source: ALP/E*

د بسترونو او ورسره نژدی چرو اوچتوالی او لوړوالی د موسم، خاوری ډول او فصل په اساس توپیر کوي . د یخ موسم په دوران کی چه شدید بارانونه وي نو بسترونه باید ۳۰ سانتی لوړ وي او د بسترونو تر منځ چری ډیری ژوری وي. په ګرم موسمونو کی چه د اوبو کمښت وي نو پیا کیدی شی چه بسترونه نسبتاً سطحی او نري وي تر څو د اوبو لپاره آسانه وي چه ریشو ته د چرو څخه نفوذ وکړي . د یو موسم څخه وروسته هغه ځمکی چه مکمله خاوره وي کیدای شی چه قلبه شي تر څو خاوره مخلوطه شي او بیا بستر دوباره د فصل د ضرورتونو او د موسم په مطابق تشکیل شي . په هغو ځمکو کی چه خاوره سپکه او شګلنه وي، کرونکی کولای شی چه بسترونه د ضرورت په اساس ترمیم کړي لیکن دی ته اړتیا نه لیدل کیږي چه په مکمل ډول یی



**9.7 شکل: د پولو ترمنځ ډکون**

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعویض کړي. حیوانی یا کیمیاوی سره د بل فصل لپاره یواځی د بستر په سطح تطبیقیږي چه د عضوی موادو اندازه زیاتوي او د خاوری جوړښت او ترکیب اصلاح کوي . که د فصلونو په دوران کی یی خیال ونه ساتل شي، نو بسترونه کولای شی چه څو فصله پرځای پاتی شي.

کله چه بزګران د کښت د کر لپاره د اوچت شوو بسترونو د سیستم څخه استفاده خپله کړي، یواځی حیوانی سره د ځمکی د تیاری په وخت کی ورعلاوه کیدای شی . او چت شوو بسترونو باندی DAP او یوریا د کښت څخه د مخه تطبیقیږي او د خاورې سره تطبیقیږي.

د اوچتو بسترونو څخه همدارنګه د هغو نباتاتو په تولید کی کار اخیستلای شو چه په مستقیم ډول تخم ورکوي لکه لوبیا، نخود، ګازری او جوار




**10.7 شکل: د سوریو تیارول د متبادل کښت لپاره**
*Source: Roots of Peace Powerpoint Presentation: Transplanting Seedling from Nurseryr*

**د بوزغلیو د انتقال او کښت لپاره تیاری**
د ساحوی قوریو ځمکه باید په کافی ډول مرطوبه وي تر څو د بزغلیو راویستل ترینه آسانه وي . که ځمکه یی ډیره خیشته او یا ډیره وچه وي نو د ریښو سیستم ته ضرر رسیږي او کیدی شی د کرلو څخه وروسته تیغه ومري . ډیره ښه لاره یی داده چه یوه ورځ مخکی په مازدیګر او یا ماښام کی اوبه ورکړل شي.

هغه وسایل چه د بزغلیو د انتقال ل پاره ضروری دي هغه د سوری کولو یوه وسیله، د اندازه ګیری فیته ده . په عنعنوی توګه ځوان بوټی په یو قطار کی د پولی په اوږدو کی کرل کیږي . کله هم به دوه قطارونو کی کرل کیږي چه د پولی په دواړو خواوو کی کرل کیږي خو به منځ کی یی نه کرل کیږي. په اوچت بستر باندی د دوو نه (کرم، رومیان ګلپی) تر څلور (کاهو) پوری سبزیجات د فصل د ډول او د بستر د جسامت پوری کرل کیدی شي د نباتاتو نفوس چه لاس ته راځی تقریباً دوه برابره د هغه وي چه اوس په شرقی زون کی په روایتی توګه کرل کیږي. د یاده مه اوباسی چه ډیر شمیر نباتات ډیر حاصلات ورکوي او ډیر حاصلات ډیره ګټه ورکوي.



**12.7 شکل: بزګران چه په لمدو بسترونو باندی بورغلی کري**
*Source: ALP/E*



**11.7 شکل: د بوزغلیو لپاره د ریښو صحیح ژوروالی**
*Source: Roots of Peace Powerpoint Presentation: Transplanting seedling from Nurserv*

د سوری کوونکو وسایلو پواسطه، په ځمکه کی د بزغلیو لپاره سوری ویستل کیږي. د ګلپیو او کرم لپاره توصیه شوی طریقه داده چه دوه قطاره ولرو چه د بوټو ترمنځ فاصله یی ۴۰ سانتی وي او په متبادل ډول وکرل شي (3.10 شکل). ځوانی تیغی په اح تیاط سره د قوریی څخه لری کیږي چه د ریښو په شاوخوا کی یی خاوره یا ختّه وي . هغوی بیا د اوبو په سطل کی ایښودل کیږي تر څو جدا شي.

بزغلی بیا په یوه بوجی کی اچول کیږي تر هغه چه وکرل شي. معمولاً داسی وی چه د سبزیجاتو کرونکی بزغلی نه انتخابوي او ټولی کري . بزګوان باید پکی انتخاب وکړي او یواځی هغه بزغلی وکرئ چه ډیری ښه وي. نو پدی صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی هغه بڼتی ډیر لوۀ یا ډیر کوچنی او یا کمزوری وي هغه باید لری کړ ئ. دغه نباتات باید ټول قوی په نظر ښکاره شی او باید ټول یو جسامت ولري او د ودی په عین مرحله کی قرار ولري.

دا آسانه کار دي چه د ګلخانو د تولید شوو بوټو څخه انتخاب ترسره شي ځکه چه جلا جلا وي . د بوټو انتخاب د قوریو یا ګلخانو د بوټو څخه باعث ددی کیږي چه په ځمکه کی په یوه اندازه او غټوالی نباتات تولید شي چه دداسی نباتاتو اداره هم آسانه وي او هم په یوه اندازه وده کوي او پخیدلو ته رسیږي او ډیر حاصلات ورکوي.



اړونده سوری په خاوره کی خلاص کړ ئ او تیغه پکی په احتیاط سره کښیږد ئ. ریشی باید په عین ژوروالی سره قرار ولري لکه څنګه چه په قوریو کی وي (3.11 او 3.12 شکل). د نبات شاوخوا ځمکه باید په آرامۍ سره تر فشار لاندی راشي ترڅو د ر یشو شاوخوا هوایی خالیګاوی په خاوره د منځه ولاړې شي . د نوو ریشو د ودی لپاره دا مهمه ده چه ریشی د خاوری سره تماس ولري

پلګ یا پټنوس لرونکی بزغل د ګلخانو څخه په عین ترتیب کرل کیږي لکه څنګه چه د ساحوی قوریو څخه تر لاسه شوی بزغلی کرل کیږي.

کله چه ځوان نباتات انتقال شي او وکرل شي، د ریشو سیستم یی باید په چټکی سره په یخه ځمکه کی تثبیت شي . یو قوی غذایی محلول باید د نبات شاوخوا ورعلاوه شي ترڅو چټکه وده تحریک کړي او ریشی جوړې شي . عین محلول چه د بزغلیو د تولید لپاره تطبیق کیږی هماغه کیدی شی چه دلته هم تطبیق شي.

11.7 شکل: د بزغلیو لپاره د ریشو مناسب ژوروالی

12.7 شکل: د بزغلیو د کرلو څخه وروسته د غذایی محلول تطبیقول د تخمونو بسترونه باید په منظمه توګه اوبه شي او مضره بوټی تری لرې شي. کولای شی چه په پیل کی سره استعمال کړئ لیکن پام وکړئ چه نبات درنه ډیر اوږد نه شي . اوسنی مشوره تاسی ته داده چه د یوریا ۱۰۰ ppm محلول تطبیق شي . که چیری د DAP څخه علاوه د فاسفورس نوری منابع هم وي نو فاسفورس لرونکی محلول توصیه کیږي چه د پیل کوونکی ( ستارتر) محلول په حیث تری استفاده وشي تر څو د ریشوچټکه وده تحریک کړي . د ښو سبزیجاتو ډیر حاصلاتو لاس ته راوړلو په لار کی د ښه کیفیت لرونکی بزغلی حاصلول یواځی لمړې مرحله ده . ښه اداره د ودی به جریان کی د بزګرانو سره مرسته کوي چه خپله سرمایه ګذاری نوره هم تقویه کړي (وخت او زحمت). د ودی په جریان کی د سری د تطبیق په هکله مربوط فصل ته مراجعه کوئ چه په نوموړو فصلونو کی همدارنګه د مضره حشراتو د کنترول تدابیر، نور مدیریتی معلومات او همدارنګه د حاصلاتو د ټولولو او د هغی



**13.7 شکل: د کاهو یو برابر فصل چه د بسترونو په اږخونو کرل شوي وو**
*Source: ALP/E*

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخه وروسته کارونو په هکله معلومات پکی موجود دي.

13.7 شکل: د کاهو یو برابر فصل چه په اوچتو بسترونو کرل شوي وو

# REFERENCES


<u>General Horticulture and Vegetable Production</u>

Acquaah, George. 2005. Horticulture: Principles and Practices. Pearson Education, Inc. Upper Saddle River, New Jersey.

Dainello, F. 1996. Texas Commercial Vegetable Production Guide. Texas Agricultural Extension Service, Texas A&M University System, College Station, Texas.

Grubinger, Vernon P. 1999. Sustainable Vegetable Production from Start-up to Market. NARES New York. New York.

Lorenz, O.A. and D. N. Maynard. 1988. Knott's Handbook for Vegetable Growers. New York, NY.Wiley.

Mahmood, N. Malik. 1994. Horticulture. Reprint (2005). National Book Foundation. Islamabad- Pakistan.

Penn State College of Agricultural Sciences. 2002. Pennsylvania Commercial Vegetable Production Guide (AGRS-28).

Prem Singh, Arya. 2002. A Text Book of Vegetable Culture. Himachal Pradesh Agriculture University. Kalyani Publishers. New Delh.

Bok, Isaac, Mogapi Madisa, Douglas Machacha, Motshodi Moamogwe and Ketseemang More, eds. 2003 reprinted in 2006. Manual for Vegetable Production in Botswana. Department of Agricultural Research, Ministry of Agriculture. Gaborone, Botswana

<u>Nurseries and Transplant Production</u>

Pacheco, Alvaro. 2007. Greenhouse Operations for Plug Seedlings Production. Powerpoint presentation. ALP/E, Jalalabad, Afghanistan.

Pacheco, Alvaro. 2007. Introduction to the Production of Vegetable Transplants. Powerpoint presentation.ALP/E, Jalalabad, Afghanistan.

Sandor, F. 2007. Seedling Transplant. Powerpoint presentation. Roots of Peace. Jalalabad, Afghanistan.

Sandor, F. 2007. Transplanting Seedlings from Nursery Bed. Powerpoint Presentation. Jalalabad, Afghanistan.

(c) ketabton.com: The Digital Library

General Crop Protection (vegetables)

Atwal, A. S. and G.S. Dhaliwal. 2002. Agricultural pests of south Asia and their management. Fourth edition, Reprint 2003. Kalyani publishers, New delhi-110 002.

Cole, C. L. and J. A. Jackson. 1997. Insects in Vegetables, Texas Agricultural Extension Service, Texas A&M University System. Web site: http://entowww.tamu.edu/extension/bulletins/b-1273.html

Fleischer, Shelby and Stephan C. White. 2002. Identifying vegetable insect pests in Pennsylvania. College of Agricultural Sciences. Pennsylvania State University and the Pennsylvania Department of Agriculture.

Gupta, V. K., Paul, Y. S., 2001. Diseases of vegetable crops. Department of plant pathology, Himachal Pradesh Krishi Vishvavidyalaya. Kalyani Publishers. New Delhi-53.

Hameed, S. F., S. P. Singh, 1998. Reprint 2004. Hand book of pest Management. Kalyani Publishers, New delhi-110 002.

Meister Publishing Company. 1999. The All-Crop, Quick Reference Insect and Disease Control Guide. Willoughby, Ohio.

New York Food and Life Sciences. 1992. Integrated Crop and Pest Management Guidelines http://www.ipm.ucdavis.edu/PMG/crops-agriculture.htmlfor Commercial Vegetable Production. New York Food and Life Sciences Bulletin Number 139.

UC IPM Online. (various dates). UC Pest Management Guidelines. Available at: http://www.ipm.ucdavis.edu/PMG/crops-agriculture.html (fact sheets about diseases and pests for most crops cultivated in the Eastern Region.

Soil Fertility and Nutrient Management

Agro-Services International. (no date) Nutrient Management in High pH Soils. Orange City, FLA.

Bierman, P.M. and C.J. Rosen. 2005. Diagnosing Nutrient Disorders in Nutrient Management for Fruit and Vegetable Crop Production. University of Minnesota Extension Service. St. Paul, MN

Fullerton, Terence. 2005. Soil pH-It's not a Real Substance. Agro-Services International. Orange City, FLA.

James, D.W. and K.F. Topper, eds. 1993. Utah Fertilizer Guide. AG-431. Utah State University Extension, Logan, UT. Available at http://extension.usu.edu/files/agpubs/ag431.pdf

Jones.C. 2005. Nutrient Management Modules. Module 2: Plant Nutrition and Soil Fertility. MSU, Bozeman, MT. Available at : http://www.ncagr.com/cyber/kidswrld/plant/nutrient.htm;

Koenig, R. and L. Rupp, 1999. Selecting and Using Inorganic Fertilizers. Utah State University Extension. HG 509. Logan, UT.

(c) ketabton.com: The Digital Library

McCraw, Dean and J.E. Motes. (no date). Fertilizing Commercial Vegetables. Oklahoma Cooperative Extension Service, HLA 6000.

Rosen, C.J. and P.M. Bierman, 2005. Using Manure and Compost as Nutrient Sources for Vegetable Crops. In Nutrient Management for Fruit & Vegetable Crop Production. University of Minnesota Extension Service, St. Paul, MN.

Sandor, F. 2007. Powerpoint Presentation: Compost Making Training, Roots of Peace, Jalalabad, Afghanistan

Crop Water Management and Irrigation

Bauder, T.A., R.M. Waskom, and J.G. Davis. Irrigation Water Quality Criteria. No. 506. University of Colorado Extension-Agriculture.

Bellows, Barbara. 2004. Irrigation. Powerpoint presentation. NCAT.

Brouwer, C., K. Prins, M. Kay, and M. M. Heibloem. (no date). Irrigation Water Management: Irrigation Methods. Training Manual no. 5. Provisional edition. FAO, Rome.

Lamont, W. J. Jr., J. K. Harper, A. R. Jarrett, M. D. Orzolek, R. M. Crassweller, K. Demchak, and G. L. Greaser. 2001. Agricultural Alternatives: Irrigation for Fruit and Vegetable Production. University Park, PA: Penn State Cooperative Extension, 2001.

McCauley, Ann, Clain Jones, and Jeff Jacobsen. 2005. Basic Soil Properties. Soil and Water Management Module 1. Montana State University Continuing Education Series. Bozeman, MT.

Morris, M. 2006. Soil moisture monitoring: Low-Cost Tools and Methods, NCAT. Available at www.attra.ncat.org/attra-pub/PDF/soil_moisture.pdf

Post harvest handling and marketing

Brewer, T., J. Harper, and G. Greaser. 1994. Agricultural Alternatives: Fruit and Vegetable Marketing for Small-scale and Part-time Growers. University Park, Pa.: Penn State Cooperative Extension.

Dixie, Graheme. 2005. Horticultural Marketing. Marketing Extension Guide 5. FAO, Rome.

Lopez Camelo, A.F. 2004. Manual for the Preparation and Sale of Fruits and Vegetables. From Field to Market. FAO Agricultural Services Bulletin 151. FAO, Rome. Available at http://www.fao.org/docrep/008/y4893e/y4893e04.htm

Pacheco, A. 2007. Powerpoint Presentation: Post Harvest Physiology of Horticultural Crops. ALP/E, Jalalabad, Afghanistan.

Individual Vegetables

***Cabbage***

(c) ketabton.com: The Digital Library

Bewick, Thomas A. 1994. Cabbage: Uses and Production. Florida cooperative extension services. University of Florida. Fact Sheet HS-712. PDF file.

Fleischer, Shelby and Stephan C. White, 2002. Identifying vegetable insect pests in Pennsylvania. College of Agricultural Sciences. Pennsylvania State University and the Pennsylvania Department of Agriculture.

Muniappan R. and Mari Marutani. (no date). Pest management on Guam for Head Cabbage Production. Agricultural Experiment Station, College of Agriculture and Life Sciences, University of Guam, Mangilao, GU 96923 USA

Yalemar, J., R. Muniappan, and M. Marutani, M.1988. Cabbage insect control, 1988. Insecticide & Acaricide Tests, 14, 108. PDF file.

***Carrots***

Davis, M., F.F. Laemmlen, and T.A. Turini. (no date). U.C. IPM Management Guidelines. Carrot Diseases. U.C. ANR Publication 3438.

Hurst, William C. and A. Estes Reynolds. 1998. Consumer Acceptance and Physicochemical measurements of quality of Georgia carrots. Department of Food Science and Technology, University of Georgia, Athens, Georgia.

Reynolds, A. Estes. (no date). Carrot production and processing in Georgia. Department of Food Science and Technology, University of Georgia, Athens, Georgia.

Rutgers University. 1984. Commercial Vegetable Production Recommendations. Bulletin E001. Rutgers University, Cook College. New Brunswick, N.J.

Stevenson, A.B. and J. Chaput. 1998. Carrot Insects Fact sheet. Ministry of Agriculture Food and Rural Affairs, Ontario. 7/98

***Cauliflower***

Dainello, F. 1996. Texas Commercial Vegetable Production Guide. Texas Agricultural Extension Service, Texas A&M University SystemCollege Station, Texas.

Knowles, T.C. 1998 Beet Armyworm. Extension Bulletin AZ1047. University of Arizona, Cooperative Extension. Available at: http://ag.arizona.edu/pubs/insects/az1047.pdf

UC Cooperative Extension Service. 2002. Cauliflower Production in California, DANR Publication 7219. UC Cooperative Extension-Imperial County Vegetable Crops Guidelines 2002-03. Available at:http://anrcatalog.ucdavis.edu/specials.ihtml

University of Arizona. 1999. Diseases of Cole crops in Arizona. University of Arizona, Extension Plant Pathology. Available at http://Ag.Arizona.Edu/PLP/plpext/Diseases/vegetables/cole/cole.html

University of Arizona. 1999. Insect Pests of Leafy Vegetables, Cole Crops and Melons in Arizona. Available at: http://Ag.Arizona.Edu/aes/yac/veginfo/bracken.htm

(c) ketabton.com: The Digital Library

***Cucumber***

Adams, P., C.J. Graves, and G.W. Winsor. 1992. Some responses of cucumber, grown in beds of peat, to N, K and Mg. J. Hort. Sci. 67:877-884.

Cook, W.P., R.P. Griffin, and C.E. Drye. 1988. Commercial slicing cucumber production. Clemson Univ. Coop. Ext. Serv. Hort. Lf. 34.

Hanna, H.Y. and A.J. Adams. 1991. Staking fresh market cucumbers for higher yields: a long term research report. Proc. Fla. State Hort. Soc. 104:237-240.

Kelley, W.T., Darbie M. Granberry and George E. Boyhan. 1996. Origins, Classifications and Uses, Cucumber and Squash. Vegetable Production Guide for Florida, Pub. No. SP 170. Univ. of Florida Cooperative Extension Service.

Motes, Jim, Warren Roberts, Jonathan Edelson, John Damicone, Jim Duthie, Slicing Cucumber Production. Oklahoma State University. Oklahoma Cooperative Extension Fact Sheets-6023. Also available at: http://www.osuextra.com .

Sanders, D.C. and J.M. Davis. 1990. Trellised cucumbers. N. Carolina State Univ. Coop. Ext. Serv. Lf. No. 14-B.

Valenzuela, Hector, Randall T. Hamasaki, and Steve Fukuda, Field Cucumber Production Guidelines for Hawaii. University of Hawaii Cooperative Extension Service.

***Eggplant***

AVRDC. 2003. How to Control Eggplant Fruit and Shoot Borer. AVRDC, The World Vegetable Center. Shanhua, Taiwan. Available on website: www.avrdc.org.

AVRDC. 2003. A Farmer’s Guide to Helpful and Harmful Insects in Eggplant Fields. The World Vegetable Center, Shanhua, Taiwan. Available on website. www.avrdc.ord

Chen, N.C., T. Kalb, N.S. Talekar, J.F. Wang and C.H. Ma. 2002. AVRDC training guide: Suggested Cultural Practices for Eggplant Culture. AVRDC, The World Vegetable Center, Shanhua, Taiwan. Available on website: www.avrdc.org

Granberry, Darbie M.1990. Commercial Eggplant Production. The University of Georgia College of Agricultural & Environmental Sciences Cooperative Extension Service.

IPM CRSP. 2003. Eggplant Grafting: a Boon to Bangladeshi Farmers. Progress Report No.1, November 14, 2003. Office of International Research, Education, and Development (ME) Virginia Tech, Blacksburg, VA.

Kemble, J.M., E.H. Simonne, G.W. Zehnder, M.G. Patterson, 1998. Guide to Commercial Eggplant Production. Alabama A & M and Auburn Universities. ANR-1098

Li, Y.C. W. Klassen, M. Lamberts and T. Olczyk. 1998. Eggplant Production in Miami-Dade County, Florida.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Takele, Etaferahu and Jose Aguiar.1997. Production practices and sample costs to produce Eggplant. University of California cooperative extension. UC Davis, Vegetable Research and Information Center.

***Green Beans (Snap beans)***

Brown, J.E., C.H. Gilliam, R.L. Shumak and D.W. Porch. 1993. Commercial snap bean response to fertilization with broiler litter. Hort. Science 28:29-31.

Gay, Johnny Dan. 1998. Snap Bean Diseases. The University of Georgia College of Agricultural & Environmental Sciences. Cooperative Extension Service, Athens, GA.

IDEA. 2001. ADC Commercialization Bulletin #5 - Fresh Green Beans. Investment in Developing Export Agriculture (IDEA) Project. Kololo, Kampala, Uganda.

Peet, Mary. 2001. Sustainable Practices for Vegetable Production. Beans. North Carolina State University, Raleigh, NC.

Sanders, D.C., and J. Davis. 1990. Pole bean production. NCSU Horticulture Information Leaflet, Raleigh, NC. Revised 5/05

Taber, Henry G. Taber. 2006. Iowa Green bean production. Department of Horticulture. Iowa State University, IA.

***Lettuce***

California Lettuce Research Board, Origin and History. Available at: http://www.calettuceresearchboard.org/

Kerns, David L., Charles A. Sanchez, David W. Still, and Barry R. Tickes.1999. Guidelines for Head Lettuce Production in Arizona. University of Arizona. Number 12.

USDA ERS. No date. U.S. Lettuce Statistics. Available at: http://www.ers.usda.gov/Data/sdp/view.asp?f=crops/lettuce/

USITC. 2002. The Harmonized Tariff Schedule of the United States. United States International Trade Commission Available at: http//www.usitc.gov/tata/hts/index.htm

***Okra***

Colditz, Paul, Darbie Granberry and Charles Vavrina. 1999. Commercial vegetable production Okra. University of Georgia, College of agricultural& environmental sciences. Cooperative Extension Service.

Praveen, P. M. and N. Dhandapani. 2002. Eco-Friendly Management of Major Pests of Okra
(Abelmoschus esculentus (L.) Moench). Journal of Vegetable Crop Production. Vol. 7(2): 3-11.

Simmone, E.H., G.J. Maynard, D.N. Hochmuth, C.S. Vavrina, W.M. Stall, T.A. Kucharek, S.E. Webb. 2004. Okra Production in Florida. Horticultural Sciences Department document HS729. Florida Cooperative Extension Service, Institute of

(c) ketabton.com: The Digital Library

Food and Agricultural Sciences, University of Florida. Available: http://edis.ifas.ufl.edu/CV128 .

Stall, W.M. 2003. Weed Control in Okra. Horticultural Sciences Department document HS192. Florida Cooperative Extension Service, Institute of Food and Agricultural Sciences, University of Florida. Available: http://edis.ifas.ufl.edu/WG032 .

Webb, S.E. 2004. Insect Management for Okra. Entomology and Nematology Department document ENY-466. Florida Cooperative Extension Service, Institute of Food and Agricultural Sciences, University of Florida. Available: http://edis.ifas.ufl.edu/IG152 .

***Onions***

Boyhan, George, Darbie Granberry, and Terry Kelley. 1999. Onion Production Guide. Cooperative Extension Service, the University of Georgia. College of Agricultural and Environmental Sciences.

Boyhan, George E., Darbie M. Granberry, and W. Terry Kelley. 1999. Green onions. Commercial vegetable production. Cooperative Extension Service, the University of Georgia, College of Agricultural and Environmental Sciences

Sandor, F. 2007. Diseases and Pests of the Onion Plant. Powerpoint presentation. Roots of Peace, Jalalabad, Afghanistan.

Sandor, F. 2007. Bulb Onion Production. 2007. Powerpoint presentation. Roots of Peace, Jalalabad, Afghanistan.

Shanmugasundaram S. and T. Kalb. (no date). AVRDC Training Guide: Suggested Cultural Practices for Onion. AVRDC, The World Vegetable Center, Shanhua, Taiwan.

***Potatoes***

Cartwright, B& W. Roberts. 2001. Potato Production. Division of Agricultural Sciences and Natural Resources. Oklahoma State University. Fact Sheet-6028.

College of Agricultural Sciences. No date. Potato Production. Agricultural Research and Cooperative Extension Pennsylvania State. Available at:

http://agalternatives.aers.psu.edu.

Floyd, Robert. 1991. Fungal diseases of potatoes. Farm note, Plant Pathology Branch, South Perth, Western Australia.

Godfrey, L.D. and D. R. Haviland. 2007. UC IPM Pest Management Guidelines: Potato. UC ANR Publication 3463.

Rutgers Univ. 1984. Commercial vegetable production recommendations. Bulletin E001. Rutgers Univ., Cook College, New Brunswick, NJ.

Thornton, R.E. and J.B. Sieczka. 1980. Commercial potato production in North America. American Potato Journal, Volume 57, Supplement.

Unknown. Important Potato Diseases and Pests. Available at: http://www.slhfarm.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Fact Sheet 02/2003, Western Australia Department of Agriculture

***Tomatoes***

Bessin, Ric. (no date). Tomato Insect IPM Guidelines. College of Agriculture, University of Kentucky.

Dodson, Mardi, Janet Bachmann, and Paul Williams. 2002. Organic Greenhouse Tomato Production, ATTRA Publication #IP190/197.

Peet, M.M. and Willits, D. 1995. Role of excess water in tomato fruit cracking. Hort. Science. 65-68.

Prasterink, F. 2000. Tomato Integrated Pest Management: An ecological Guide'. Intercountry Programme for Development and Application of IPM in Vegetable Growing in South and Southeast Asia. FAO, Rome.

Rude, P. A. 1985. IPM for Tomatoes. University of California. Publication 3274.

Sanders, Doug. 1999. The Perfect variety. American Vegetable Grower. Vol.47, No.12, p. 47-48.

Sanders, Douglas C. 2001. Fresh Market Tomato Production. College of Agriculture & Life Science, North Carolina state University. Horticulture Information Leaflet. Author reviewed 1/01. HIL-28-A.

Wyenandt, Christian A., Dr. Mac Riedel and Dr. Landon Rhodes.1997. Assessing and Integrated Diseases Management Strategy for Processing Tomatoes in Ohio, Department of Plant Pathology. Ohio State University.

***Watermelon***

Boyhan, George E., Darbie M. Granberry, and W. Terry Kelley. 1999. Commercial Watermelon Production. University of Georgia College of Agricultural and Environmental Sciences, Athens, GA.

Marr, Charles W. Marr, and Ned Tisserat, 1998. Commercial Vegetable Production Watermelon, Kansas State University; Agricultural Experiment Station and Cooperative Extension Service. PDF file. Also available on the World Wide Web at: http://www.oznet.ksu.edu .

Mississippi State University, Crops: Vine Crops at http://msucares.com/crops/comhort/vine.html

Roberts, Warren, Jim Motes, John Damicone, Jim Duthie, and Jonathan Edelson, Watermelon Production. Oklahoma State University. Oklahoma Cooperative Extension Fact Sheets-6236. Are also available on website at: http://www.osuextra.com .

Websites

(c) ketabton.com: The Digital Library

***Cabbage***
http://www.ficciagroindia.com/production-guidelines/vegetables/cabbage...htm
http://www.oisat.org/crops/vegetables/cabbage.html .
http://www.avrdc.org/LC/cabbage/home.html .
http://www.hort.purdue.edu/ext/senior/vegetabl/cabbage1.htm.
http://www.hort.purdue.edu/rhodcv/hort410/cole/cole.htm.
http://www.fertilizer.org/ifa/publicat/html/pubman/cabbage.htm

***Cauliflower***
http://www.oisat.org/crops/vegetables/cauliflower.html .
http://www.avrdc.org/LC/cauliflower/home.html .
http://www.hort.purdue.edu/rhodcv/hort410/cole/cole.htm.
http://www.ficciagroindia.com/production-guidelines/vegetables/cayuliflower...htm .
http://preview.ers.usda.gov/publications/vgs/VGSTables.htm .
http://www.ers.usda.gov/briefing/vegetables
http://usda.mannlib.cornell.edu/datasets/specialty/89011/

***Cucumber***
http://www.agr.gc.ca/cal/epub/...html .
http://www.essentialgardenguide.com/garden-care.php .
http://www.cucumbergrowingtips.com/cucumbergrowingproducts.html .
http://hgic.clemson.edu/factsheets/graphics/cucurbins/...htm

***Eggplant***
http://www.ag.vt.edu/ipmcrsp/index.asp .
http://www.avrdc.org/LC/eggplant/eproduction/....html .
http://www.fotosearch.com/eggplant....

***Lettuce***
http://ag.arizona.edu/pubs/crops/az1099/ .
http://aesop.rutgers.edu/~horteng/lettuce_productions.htm .

***Okra***
http://www.ficciagroindia.com/production-guideline/vegetables/okra.htm .
http://www.johnnyseeds.com/home.aspx .
http://edis.ifas.ufl.edu/

***Onion***
http://www.onions-usa.org/index.asp
http://www.ficciagroindia.com/production-guidelines/vegetables/onion...htm
http://www.acclaimimages.com/-gallery/-pages/...html .
http://pubs.caes.uga.edu/caespubs/pubcd/...htm

***Tomatoes***
http:// edis. Ifas. ufl.edu/ EDIS image page.
http:// www.avrdc.org/tomato/ production/17harvestp1.html.
http://www.attra.org/attra-pub/tomato.html

(c) ketabton.com: The Digital Library

http://www.kcinter.net/~mule/Tomato/tomlink/problems.html.
http://msucares.com/pubs/publications/p1828.html.
http://www.ces.ncsu.edu/depts/hort/greenhouse_veg/resources.
http://aggie-horticulture.tamu.edu/greenhouse/nursery/guides/green/.
http://is.rice.edu/~shel/tomato.html.
http://www.ohioline.osu.edu/hyg-fact/3000/3122.html

***Watermelon***
http://pubs.caes.uga.edu/pubs/pubsubj.html .
http://www.ficciagroindia.com/production-guidelines/vegetables/watermelon...htm
http://www.urbanext.uiuc.edu/veggies/watermelon1.html .
http://www.rec.udel.edu/veggie/watermelon/watermelonproductionguide.htm .

http://www.ag.vt.edu/ipmcrsp/index.asp .
http://www.avrdc.org/LC/eggplant/eproduction/....html .
http://www.fotosearch.com/eggplant....

***Soil and water management***
http://www.mt.nrcs.usda.gov/technical/ecs/agronomy/soilmoisture/sand.html
http://www.mt.nrcs.usda.gov/technical/ecs/agronomy/soilmoisture/sandyloam.html
http://www.mt.nrcs.usda.gov/technical/ecs/agronomy/soilmoisture/sandyclay.html
http://www.mt.nrcs.usda.gov/technical/ecs/agronomy/soilmoisture/clay.html
http://www.mt.nrcs.usda.gov/technical/ecs/agronomy/soilmoisture/guideline.html
http://www.mt.nrcs.usda.gov/technical/ecs/agronomy/soilmoisture/guideline.html
http://www.land.vic.gov.au/dpi/nreninf.nsf/LinkView/6DC2035BC7179714CA256C170
0047863FC1ACD73B37596414A256DEA0027E49F

***Crop Water Management and Irrigation***
http://www.montana.edu/wwwpb/pubs/4481.html/. (for Soil and Water Management Modules (1-3). 4481-1, 4481-2 and 4481-3)

***Plant nutrition and Soil Fertility***
http://www.montana.edu/wwwpb/pubs/ (for Nutrient Management Modules (1–15). 4449- (1 to 15). Montana State University Continuing Education Service)
http://www.ncagr.com/cyber/kidswrld/plant/nutrient.htm;
http://www.greenair.com/nutrient-properties.htm

